دويمه کچه

# سرمست خان خندا زده کوي



**ليکوال:** روهيني نيکليکاني
**انځور ګر:** انکي او يوپيش

THE YALDA HAKIM FOUNDATION
Educate-Empower-Inspire

Smile Please(Pashto), Published by Pratham Books, under a CC BY 4.0 license on StoryWeaver .



سرمست خان يو ښه بزګر ؤ.
هغه ښې کيلې کرلې چې ښه حلوا ترې جوړېده.



خو هغه تر ټولو ویرونکې او غصه ناکه ښیره درلوده.
کله به چې هغه غصه ؤ، تندی به یې له ژورو ګونځو ډکیده.
پوزه یې سره کیده او سترګې به یې تنګیدې.



کله به چې هغه غصه شو، نو هر يو به له هغه تښتيدل. د هغه ميرمن، ماشومان او ملګري به پټېدل. د هغه غوا او سپي به هم منډې وهلې، آن تر دې چې کارغان به له ويرې آلوتل.



کله به چې بوټي ښه نه شنه کيدل، نايي به د هغه ويښتان په وخت نه لنډول، تلويزيون به سم کار نه کاوه او ...، نو سرمست خان به لا په غصه کيده.



یوه ورځ سرمست خان چې په ډیر بد حالت کې ؤ، خپلې کروندې ته لاړ. او هیڅوک نه پوهیدل چې ولې یې حالت ګډ وډ دی.



سرمست خان د کیلو هغه بوټي ته ودریده چې غټ، غټ ښاخونه یې درلودل. ډیر ژر په دې فکر کې شو چې یوه خوندوره حلوا ترې جوړه کړي او غصه یې په خندا بدله شي.



له هغې وروسته د بیزو ګانو لو لښکر راغی او په ښاخونو یې حمله وکړه او را زنګیدې. یوې غټې بیزو، چې له ویښتانو ډکه وه، د کیلو په یو ډک ښاخ کیناسته او پو خوړلو یې پیل وکړ.



دغه کار سرمست خان په غصه کړ. د هغه غصه مخ پر ډېريدو وه. او دا د هغه تر ټوله بده غصه وه چې له سره تر پښو په غصو کې ډوب ؤ.



بیزو هغه ته حیرانه وه او داسې غصه یې په ژوند کې نه وه لیدلې. بیزو یوه کیله پر ځمکه وغورځوله. او وروسته یې څو نورې کیلې هم را ګوزار کړې. په منډه یې بل بوټي ته خیز کړ. او ورپسې یې نورو بوټو ته ټوپونه ووهل. او ژر له غصه ناک سرمست خان څخه وتښتیده.



سرمست بيزو وليده چې له يوه بوټي څخه بل بوټي ته ټوپونه وهي. هغه بيزو خواته ورغی اوغوښتل يې چې هغې ته سبق ورکړي.



په لاره کې سرمست خان د کیلو په پوټکو وښیده، لاندې ګوزار شو او څپلۍ یې په خټه کې بندې شوې.



سرمست خان ځان برابر کړ چې بیزو را ونیسي، خو هغه بیا وښویده. دا ځل یې مخې ګذار شو او پر ځمکه پریوت.



یو څه یې بیا ځان برابر کړ. د هغه خوله له خټو، پاڼو او بوټو ډکه وه.
سرمست خان پورته وکتل خو بیزو تښتیدلې وه.



سرمست خان ځان ته وکتل. ښایسته کمیس یې خړپړ وه. لاسونه یې خیرن او ژوبل، ژوبل وو. هغه خپلې پښې هم نشوی سمولی. ټول ځان یې په خټول ککړ شوی ؤ.



ناڅاپه یې ځان ته پام شو چې لیونی ترې جوړ شوی ده. وې ویل: ” هغه مشهور بزګر (سرمست خان)، اوس د لیونو په شان پروت دی.“ راپورته شه او په پښو او بوټو له پاسه کیناست، وې خندل. لومړی یې ورو، ورو خندل او هې، هې یې کول. وروسته یې په لوړ غږ هاهاهاها په خندا پیل وکړ.



د هغه خندا مخ په ډېرېدو وه. د خنداګانو غږونه يې پورته کېدل. خپله خېټه يې په لاسو نيولې وه او رغړېده. او له ډېرې خندا څخه يې له سترګو اوښکې بهېدې.



د هغه خندا ګانو انګازې کولې. د هغه شاوخواه مرغان راټول شول او د هغه خندا ته یې غوږ نیولی ؤ. خندا دومره لوړه وه چې بیزو ګانې بیرته را ستنې شوې. د هغه خندا دومره خنده ونکې وه چې ماشومان ټول ورته را ټول شوي وو. دا یوه نوې خندا وه. د هغه ټوله کورنۍ له کوره بهر را ووتل او د هغه خندا ته هک پک پاتې وو.



سرمست خان دومره وخندل چې ټولو ورسره خندل. مرغانو کوکارې کولې. کارغان کړغیدل. بیزوګانې چونګیدې. ماشومان پورته، پورته آلوتل. د کیلو بوټي خوځیدل. نایانو په خپلو دوکانو کې خندل. خیاطان هم خوښ ول. یو پړانګ هم سرمست ته نیزدې پروت ؤ او د هغه بریتو ته یې خندل.



ناڅاپه سرمست خان خپله خندا ودروله. هر څه او هر یو کس د هغه شاوخوا خوښ ول. سرمست خان هم خوښ ؤ او وې
وویل: ” راځې چې کور ته لاړ شو.“
هغه خپل لاسونه په ماشومانو اچولي وو. سرمست خان اوس هم کله، کله غصه کیږي، خو هغه اوس خندا هم خوښوي او د
ښار لوړ غږ خندا کوونکی دی.

# لارښودونکې پوښتنې

1.کوم شی تاسو ډېر غصه کوي؟ کله چې یو کس ستاسو په چاپېریال کې په بد حالت کې وي، ستاسو غبرګون به څه وي؟

2. ولې په نورو غصه کول بد کار دی؟ آیا کومه روغتیايي ستونزه په نښه کولی شئ چې د غصې لامل ګرځي؟

3. آیا په دې خبره باوري یاست چې وایي " وخانده چې نړۍ در سره وخاندي؟" او داخبره د سرمست خان په خندا څرنګه عملي کوی؟

4. فکر وکړئ چې تاسو په دې قیصه کې یوه وړه بیزو یاست، تاسو له سرمست خان سره څه کولی شئ؟ آیا غواړئ له هغه څخه وتښتئ یا خبرې ورسره وکړئ؟

5. هغو خلکو ته څه وړاندیز لرئ چې تل په غصه وي، او څنګه هغوی آرامولی شئ؟